# اورانوس

۱ــ **اورانوس** د لمريز غونډال (شمسي نظام) اوومه سياره ده چې له لمر څخه کابو ۲،۹ مليارړ کيلو مټره واټن لري. د لرغوني روم له ادبياتو څخه يې د اسمان د خدای نوم پر ايښی دی. اورانوس ډېره سړه سياره ده چې توند بادونه او د ځينو نورو سيارو په شان د انسانانو لپاره زهرجنه هوا لري. د ډېر ليرېوالي له کبله د دې سيارې څېړل ستونزمن دی. ساينسپوهان يوازې د رياضيکي اټکلونو له مخې د اورانوس په اړه وړاندېينې کوي.

۲ــ اورانوس هم د مشتري، زحل، او نيپټون په شان له اوبو او غازونو جوړه شوې ده، نو ځکه کلکه سطح نه لري چې څوک پر ودرېږي.

۳ــ اورانوس لومړنۍ سياره وه چې د لروين په مرسته د اماتور ستورپوه ويليم هرشل (William Herschel) له خوا په ۱۷۸۱ کې کشف شوه، که څه هم ويليم هرشل او نورو ستورپوهانو تر ډېره وخته ګومان کاوه چې دا يوه لکيوره (comet) ده.

۴ــ که لمر د يوې دروازې هومره لوی وای، نو ځمکه به د کيلي د سوري او اورانوس به بېسبال (baseball) هومره وای. اورانوس په لمريز غونډال (شمسي نظام) کې تر زحل وروسته درېيمه لويه سياره ده؛ او تر ځمکې کابو ۶۳ واره لويه ده.

۵ــ اورانوس هم زموږ پر لمر را څرخي. د لمر شاوخوا د اورانوس د چورلښت سرعت په يوه ثانيه کې ۶،۸ کيلو مټرو ته رسېږي. د اورانوس يو کال د ځمکې ۸۴ کلونه [يا د ځمکې ۳۰۶۸۷ ورځې] کېږي.

۶ــ د اورانوس يوه ورځ د ځمکې ۱۷ ساعته او ۱۴ دقيقې کېږي؛ په داسې حال کې چې د ځمکې يوه ورځ ۲۳ ساعته او ۵۶ دقيقې ده.

۷ــ اورانوس ته کنګلنۍ بلا (ice giant) هم وايي. هغه په دې خاطر چې د دې سيارې ۸۰٪ له يخيو، اوبو، ميتان (methane) او امونيا (ammonia) څخه جوړه شوې ده. البته په دننه کې يو ډبرين زړی لري.

۸ــ اورانوس خپله هواوېجه (اټموسفير) لري چې له هايډروجن (hydrogen)، هيليم (helium) او ميتان (methane) څخه جوړه شوې ده. که کومه تشيالبېړۍ ور نږدې شي، نو د اورانوس له کنګل شويو وريځو سره به ټکر او ټوټې ټوټې شي.

۹ــ د اورانوس هر موسم کابو شل کاله دوام کوي. هغه په دې خاطر چې اورانوس ۹۷٪ کږوالی (tilt) لري. اورانوس د وريځو په پاسنۍ برخه کې ډېره شديده يخني لري. خو لاندې بيا د ميتان (methane) او امونيا (ammonia) له کبله ډېرې تودې اوبه لري. په اټموسفير کې د ميتان شتون دې سيارې ته شين او زرغون رنګ ور کړی دی.

۱۰ــ اورانوس ۲۷ سپوږمیانې لري. د دې سیارو پر ټولو سپوږمیانو د ویلیم شېکسپیر (William Shakespeare) او الېکسانډر پوپ (Alexander Pope) د کیسو د کرکټرونو نومونه ایښوول شوي دي. د اورانوس ډېری سپوږمیانې تر ۲۰۰۳ کال پورې کشف شوې؛ او کېدای شي چې نورې سپوږمیانې هم ولري.

۱۱ــ اورانوس ۱۳ کړیانې لري. دننۍ کړیانې یې نرۍ او تیاره لري؛ په داسې حال کې چې باندېنۍ کړیانې یې روښانه او رنګه دي. د دې ۱۱مه کړۍ په ۱۹۷۷ کې کشف شوه.

۱۲ــ وایجر ۲ (Voyager 2) یوازینۍ تشیالبېړۍ ده چې له اورانوس څخه یې لیدنه کړې ده.

۱۳ــ په اورانوس کې ژوند کول ناشونی دی.

۱۴ـ اورانوس هم د زهرې په شان له نورو سیارو څخه پر مخالف لور چورلښت کوي چې دې ته د ستورپوهنې په اصطلاح کې (retrograde rotation) وايي.

## تړلې لیکنې

- - [نیپټون]
  - [زحل]
  - [عطارد]
  - [مریخ]
  - [پلوټون]
  - [ځمکه]
  - [سپوږمۍ]

## سرچینې


"https://ps.wikipedia.org/w/index.php?title=اورانوس&oldid=190586" نه اخیستل شوی

**دا مخ وروستی ځل په ۰۵:۰۵، ۵ جون ۲۰۱۶ بدلون موندلی.**

دا متن د کرییټیف کامنز ورته-شریکېدنې-اړوندتیا منښتلیک له مخې خپور شوی؛ اضافه شرطونه به هم کارېدلي وي. د لا تفصیل لپاره د کارولو شرطونه وګورئ.